چا چې خپل (مسلمان) ورور ته وويل چې: "اې کافره!"، نو دا (تکفير) به له دوی څخه د يو پورې نښلي؛ که هغه رښتيا کافر وي نو خبره پر ځای ده، او که نه وي، نو دا خبره به بېرته پر هماغه ويونکي ورګرځي

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې: رسول الله ﷺ فرمايلي: چا چې خپل (مسلمان) ورور ته وويل چې: "اې کافره!"، نو دا (تکفير) به له دوی څخه د يو پورې نښلي؛ که هغه رښتيا کافر وي نو خبره پر ځای ده، او که نه وي، نو دا خبره به بېرته پر هماغه ويونکي ورګرځي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

نبي ﷺ مسلمان ته دا خبرداری ورکړی چې خپل مسلمان ورور ته دې «اې کافره!» نه وايي، ځکه د کفر دا خبره به د دوی له يو سره ټرلې وي؛ که مخاطب رښتيا کافر وي، نو خبره پرې صدق کوي او که نه وي نو د خپل ورور تکفيرول به بېرته پر ويونکي ورګرځي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66271